په افغانستان کې ماشومانو ته ښوونیز او روغتیایي خدمتونه له ګواښ سره مخامخ دي

کابل، د ۲۰۱۶ کال د اپریل ۱۸مه ـ دملګرو ملتونو یو تازه رپوټ ، چې نن خپور شو وایي، چې په افغانستان کې ماشومان په زیاتیدونکي ډول روغتیایي او ښوونیزو خدمتونو ته د لاس رسي په برخه کې له ګواښ سره مخامخ دي. د' ګواښ سره مخامخ روغتیایي او ښوونیزخدمتونو په رپوټ کې هغو مهمو ټکواو پیښو ته کتنه شوې، چې په افغانستان کې ښونیزو او روغتیایي خدمتونوته د لاس رسي په برخه کې ماشومان ورسره لاس ګریوان دي.'

دغه رپوټ د ملګروملتونو د مرستندویه پلاوي یوناما او یونیسف لخوا په ګډه برابر شوی. رپوټ دیته کتنه کړې، چې په څه ډول په جګړوپورې اړوند تاوتریخوالي کې د جګړې ټولوخواو لخوا پیښ شوي ګواښونه او تهدیدونه د ښوونیزو او روغتیایي خدمتونو کارکونکو ته زیان رسولی او روغتیایي مرکزونوته یې لاس رسی کم کړی او اړینو روغتیایي او ښوونیزوخدماتو ته یې د ماشومانو لاس رسی محدود کړیدی. دغه رپوټ د۲۰۱۳ کال د جنورۍ له لومړۍ د ۲۰۱۵ کال د دسمبرتر ۳۱ پورې دري کلنه موده را نغاړي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی نیکولاس هیسم وایي: " د رپوټ موندنې په ژوره توګه ځورونکي دي. په ساده ډول هغه کړنې د نه منلو وړ دي ، چې ښوونکي، ډاکټران او نرسان له ګواښ او تاوتریخوالي سره مخامخ کوي اوله ښوونځیو او روغتیایي خدمتونو ناسمه ګټه پورته کیږي او یا پرې بریدونه کیږي." هغه وویل:" ټولې خواوې دي په افغانستان کې د روغتیایي او ښوونیزو خدماتو د خوندیتوب او ساتنې په موخه اغیزمن ګامونه پورته کړي."

په ۲۰۱۵ کال کې یوناما او یونیسف ۱۲۵ پیښې ثبت کړې، چې روغتیایي خدماتو ته لاس رسی یې اغیزمن کړی وو، په دې کې ۲۰ روغتیایي کارکونکي وژل شوي، ۴۳ نور ټپیان شوي او ۶۶ یرغمل شوي دي. البته دا پیښې په ۲۰۱۴ کال کې ۵۹ وې. د جګړې له کبله ښوونیزو خدماتوته د لاس رسي د اغیزمنتیا په برخه کې بیا ۱۳۲ پیښې ثبت شویدي، چې د ښووني د برخې ۱۱ کارکونکي وژل شوي، ۱۵ ټپیان او ۴۹ نور یرغمل شویدي. دا شمیرې د ۲۰۱۴ کال پرتله ښکاره زیاتوالی ښیي.

په ۲۰۱۵ کال کې د ۲۵۷ مستند ثبت شویو پیښو اکثریت تهدید او ګواښونه وو، چې د ۲۰۱۴ کال پرتله پکې ۱۸۲ په سلو کې زیاتوالی راغلی دی. په دغو تهدیدونو او په مرګ ګواښونکو کړنو کې په مرګ ګواښل، د روغتیایي او ښوونیزو خدماتو د کارکونکو توهینولو، په زور دښوونځیوترلو، ښوونځیو ته د نه تلو داخطار لیکونو ترلاسه کولو، غصب او نورځوروونکي اعمال شامل دي. یوناما او یونیسف دارنګه یو شمیرداسي پیښې هم مستندې اوثبت کړي، چې ښوونځیو او کلینیکونو ته نژدې د سړک د غاړې چاودیدونکو توکوته چاودنه ورکړل شوې چې په ترڅ کې یې د روغتیایي خدماتو او ښونیزومرکزونو کارکونکي ټپیان او یا وژل شویدي.

په افغانستان کې د یونیسف استازی اکیل آیر وایي: "په ۲۰۱۵ کال کې په زیاتیدونکي توګه ماشومان روغتیایي او ښوونیزوخدماتو ته د لاس رسي په برخه کې د نا امنیو او د جګړییز تاوتریخوالي له کبله له ستونزو سره مخامخ وو، چې په هیواد کې د اوچتې کچې بې وزلۍ دا ستونزې نورې هم سختې کړې وې."

په ۲۰۱۵ کال کې د جګړې اړوند تاوتریخوالي له کبله یا په بشپړه توګه او یا هم په موقتي ډول ۳۶۹ ښوونځي تړل شوي وو، چې ۱۳۹۰۰۰ زده کونکي او ۶۰۰ ښوونکي تري اغیزمن شوي دي.

په رپوټ کې په مشخص ډول هغو زیانونو ته اشاره شوې ، چې نجوني ورسره مخامخ دي، لکه بریدونه، ګواښونه او هغه ښکاره منع کونکي لیکونه او سپارښتنې، چې د نجونو د تعلیم د محدودولو لپاره تحمیل شویدي.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشره ډانیل بیل وایي: "جګړییز تاوتریخوالي نه یوازې افغان ماشومان زیانمن ګواښ سره مخامخ کوي، بلکې روغتیایي او ښونیزوخدماتو ته ددوی اساسي حقونه محدودوي." هغې وویل:"ښونیزو او روغتیایي خدماتو ته د ماشومانوپه تیره بیا د نجونو د خوندي او ازاد لاس رسي په موخه باید هڅې دوه برابره شي."

دغه رپوټ په جګړه کې ټولو ښکیلو خواوو ته یو شمیر وړاندیزونه لري، چې ماشومان وتوانوي چې په ازاد ډول روغتیایي او ښوونیزو خدماتو ته لاس رسي ولري.

***